# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ مجله

شپاړسم کال، ۱۸۱ مه ګڼه د ۱۴۴۴ کال د محرم الحرام ( ۱۴۰۱ زمري) میاشت




## د افغانستان بانک د خپل یو کال کړنې او مهمې لاسته راوړنې د حساب ورکونې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې د افغانستان له شریفو خلکو سره شریکې کړې



# حساب ودیعه:

ودیعه یو ډول امانت ایښودلو ته وایي چې یو شخص خپلې پیسې له ټکټانې یا ګټې پرته د ساتلو لپاره په اسلامي بــانک کې د امانت په توګه کېږدي. هر کله چې مشتري وغواړي خپلې پیسې له بانک څخه ویستلای شي.

---

ودیعه نوعی سپرده است که شـــخص پول خود را بـــه عنوان امانت در بـــانک اسلامی می گذارد تا بدون بهره و سود آن را نگه دارد. مشـــتریان می توانند هر زمان که بخواهند پول خود را از بانک برداشت کنند.



# بانک

## د ګڼې لړلیک / مطالب مجله

| د ګڼې لړلیک / مطالب مجله | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک د خپل یو کال کړنې او مهمې لاسته راوړنې د حساب ورکونې... | ۲ |
| د کندهار ولایت د صرافانو او پولي چوپړتیاوو د وړاندې کوونکو سره غونډه | ۴ |
| افتتاح نمایندگی د افغانستان بانک در محوطه ریاست پاسپورت | ۵ |
| د تاشکند غونډه: د افغانستان پلاوي ارزي زېرمو ته د افغانستان بانک پر لاسرسي... | ۶ |
| تدویر جلسه با عده ای از تاجران کشور چین | ۶ |
| په تېر یو کال کې د افغانستان بانک لاسته راوړنو ته لنډه کتنه | ۷ |
| بررسی عوامل عمده اقتصادی فقر در افغانستان | ۱۱ |
| آیا پوهیږئ چې په روان ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې د نړۍ تر ټولو بډایه بانکونه کوم دي؟ | ۱۴ |
| بندر حیرتان و اهمیت آن در توسعه تجارت | ۱۶ |
| اقتصادي خبرونه | ۲۰ |
| د زعفرانو اقتصادي ارزښت | ۲۲ |
| زراعت و نقش آن دراقتصاد کشور | ۲۴ |
| د موبایل پولي حساب | ۲۷ |
| د ډېرو سکاره، د عواید و غوره سرچینه | ۲۹ |
| قالین افغانستان و جایگاه آن در صادرات و بازارهای جهانی | ۳۱ |

## کاري ډله


د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله څلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: حسیب الله نوري

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د خپل یو کال کړنې او مهمې لاسته راوړنې د حساب ورکونې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې د افغانستان له شریفو خلکو سره شریکې کړې




د ۱۴۴۴ کال د محرم الحرام ۱۳ مه – د افغانستان بانک چارواکو ملت ته د حکومت د حساب ورکونې پروګرام په دوام کې نن د افغانستان بانک د یو کلن فعالیت او لاسته راوړنو راپور د حکومت د رسنیو په مرکز کې د رسنیو له لارې د خلکو سره شریک کړ.

په پیل کې د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي عبدالقاهر (حاجي ادریس) د افغانستان بانک د مهمو لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل، خوښ یم چې له دې فرصت څخه په استفادې د بانک د کړنو او فعالیتونو راپور له درنو هیوادوالو سره شریکوو.

نوموړي زیاته کړه چې د افغانستان بانک د خپلو سیاستونو د پلي کولو او د کړنو په اړه راپور ورکولو ته خورا ډېر ارزښت ورکوي. ځکه چې د اغېزناکو مالي او پولي سیاستونو پلي کول د خلکو د پېر له ځواک څخه د ملاتړ او د ټولنې له زیانمنونکي قشر سره د همکارۍ په معنا دي او خلک حق لري، ترڅو پوه شي چې د افغانستان بانک په دې برخه کې کومې کړنې ترسره کړې دي.

ښاغلي حاجي ادریس همدا راز زیاته کړه چې په هیواد کې له سیاسي بدلون وروسته د سوداګریزو بانکونو د فعالیت خوندیتوب، د نقدینګۍ مدیریت او د پېرودونکو د امانتونو د ورکولو، د خلکو لپاره د لومړنیو توکو او خدمتونو د عرضه کولو په موخه د بهرنیو لېږدونو د اسانتیا او هیوادوالو لپاره د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو او تنظیمولو لپاره بې دریغه هڅې کړې دي چې د مالي او بانکي کارپوهانو د وړاندوینو برعکس یې تر اوسه په بریالی توګه د بانکي سکتور

»



خوندیتوب او ټیکاو ساتلی دی.

وروسته د افغانستان بانک د پالیسۍ ستر سلاکار ښاغلي لطف الحق نور پسرلي د پولي سیاستونو د اغېزناک تطبیق او د بانکي سکتور د کړنو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل، مرکزي بانک د مقرراتي چارو د تنظیم، د پېرودونکو ستونزو ته د رسېدنې، نقدینګۍ د مدیریت، د سوداګریزو بانکونو د فعالیتونو د دوام، د بانکي چوپړونو د وړاندې کولو د تنظیم، د صرافانو او مالي چوپړونو د وړاندې کولو په برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو، په تخنیکي کچه د خبرو اترو او د امریکا د متحده ایالتونو د خزانې څخه د عمومي جوازونو د ترلاسه کولو او د خلکو د اړتیاوړ توکو د تورید لپاره د نړیوالو لېږدونو د اسانتیا په موخه دې اداري اغېزناک فعالیتونه ترسره کړي دي.

د افغانستان بانک د پالیسۍ ستر سلاکار همدارنګه د مالي او بانکي ستراتېژیک پلان یادونه وکړه چې د بانکي سکټور د بیا رغولو او د بانکونو د فعالیتونو د نورمال کولو لپاره په پام کې نیول شوی او ډاډېې ورکړ چې د افغانستان بانک د بانکونو د عادي کولو لپاره د شریکانو سره همکار دی، نوموړي زیاته کړه چې هیله لرو ژر تر ژره د پام وړ پایلې ترلاسه کړو.

وروسته د بازار د عملیاتو لوی آمر ښاغلي محمد عباس سامح خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې په هیواد کې د شته ننګونو سره سره بیا هم په تېر کال کې د افغانیو نرخ د سیمې د نورو اسعارو په پرتله په نسبي ډول ثابت پاتې شوی دی.

ښاغلي سامح د هیواد د بهرنیو اسعارو د زېرمو د خلاصون په اړه د تخنیکي بحثونو د پرمختګ په اړه هم خبرې وکړې او ویې ویل، چې له بهرنیو شریکانو سره په بېلابېلو کچو تخنیکي خبرې اترې شوي دي او د بهرنیو اسعارو د زېرمو په اړه هر اړخیز پلان له دوی سره شریک شوی دی.

# د کندهار ولایت د صرافانو او پولي چوپړتیاوو د وړاندې کوونکو سره غونډه



د ۱۴۴۴ کال د محرم الحرام ۶ مه — د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په مشرۍ د کندهار ولایت د صرافانو او پولي خدمتونو له وړاندې کوونکو سره د افغانستان بانک په سویل لویدیځ زون کې غونډه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې ښاغلی نوراحمد آغا د صرافانو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د سکتور لپاره د جوړې شوي طرحې پر اړتیا، ارزښت او د پلي کولو په اړه یې په تفصیل سره خبرې وکړې او یاده طرحه یې د صرافیو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د چارو د میکانیزه کولو په برخه کې د ارزښت وړیاده کړه.

نوموړي یاده طرحه د افغانستان د خلکو، د صرافانو د فعالیتونو او د هیواد د مالي سکتور د پیاوړتیا لپاره اړینه وبلله او یادونه یې وکړه چې پدې برخه کې د صرافانو او پولي چوپړتیاوو د وړاندې کوونکو لپاره ډېرې اسانتیاوې په نظر کې نیول شوې دي.

نوموړي له صرافانو او د پولي چوپړتیاوو له وړاندې کوونکو وغوښتل چې د نوې طرحې پر بنسټ د جوازونو د اخیستلو لپاره د افغانستان بانک ته مراجعه وکړي، ترڅو د ټاکل شوې کمېټې لخوا یې دفترونه و نه تړل شي.

دیادولو وړ ده چي په دې ناسته کی د غیربانکی مالي مؤسسو د څارني عمومي آمر ښاغلي احمد ظاهر ناصرزي او د سویل لویدیځ زون آمر ښاغلي ملا عبدالصمد منصوري او د دې زون یو شمېر کارکوونکو هم ګډون کړی وو.

باید وویل شي چې تر دې وړاندې په هلمند ولایت کې هم د اړوندې موضوع په اړه د صرافانو او پولي چوپړتیاوو د وړاندې کوونکو سره غونډه تر سره شوې وه او د یادې موضوع په اړه صرافانو او د پولي چوپړتیاوو وړاندې کوونکو ته اړین معلومات ورکړل شوي دي.●



# افتتاح نمایندگی د افغانستان بانک در محوطه ریاست پاسپورت



۲۲محرم الحرام ۱۴۴۴ – د افغانستان بانک به منظور ارائه خدمات بهتر و به موقع به مردم، شهری ځانگه ۷ خود را در ساختمان ریاست پاسپورت افتتاح کرد.

محترم عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک در افتتاحیه ساختمان مذکور گفت که د افغانستان بانک تلاش دارد تا خدمات بهتر و به موقع را به مردم ارائه کند.

به گفته وی، با فعال شدن شهری ځانگه هفتم د افغانستان بانک در داخل محوطه ریاست پاسپورت، تسهیلات زیادی برای آن دسته از شهروندانی که می خواهند پاسپورت بگیرند ایجاد می شود، پیش از این کسانیکه میخواستند پاسپورت را دریافت نمایند مجبور بودند که بخاطر تسلیمی تعرفه های بانکی خویش به بیرون از بانک تشریف ببرند، اما با فعال شدن این نمایندگی تمام کارهای پاسپورت در یک ساختمان انجام می شود.

این نمایندگی دارای ۱۵ غرفه است که ۱۰ غرفه آن برای مراجعین ذکور و ۵ غرفه برای مراجعین اناث اختصاص داده شده است.

قابل ذکر است که در افتتاح این نمایندگی د افغانستان بانک معاون ریاست پاسپورت از مسئولین د افغانستان بانک برای فراهم آوری سهولت تشکری نموده و از طرف خود تعهد هر نوع همکاری داد.

باید گفت که د افغانستان بانک در تلاش است تا تسهیلات لازم را در عرصه های مختلف مالی و بانکی برای شهروندان ایجاد نماید.

## د تاشکند غونډه: د افغانستان پلاوي ارزي زېرمو ته د افغانستان بانک پر لاسرسي ټینګار وکړ

د بهرنیو چارو وزارت په استازولۍ د افغانستان لوړ رتبه پلاوي چې د افغانستان بانک استازو هم پکې ګډون درلود. د روان کال د زمري د میاشتې پر ۵ مه نېټه د ازبکستان هیواد د تاشکند په ښار کې د امریکا د متحده ایالتونو له استازو سره په غونډه کې ګډون وکړ.

په دې غونډه کې د ارزي زېرمو او د افغانستان د اقتصادي وضعیت په ښه کولو کې د هغې د رول په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې. د افغانستان پلاوي ارزي زېرمو ته د افغانستان بانک پر لاسرسي او د افغانستان بانک د قانون د حکمونو په رڼا کې د مطلوبو موخو د ترلاسه کولو لپاره له هغې څخه پر رسمې استفادې ټینګار وکړ.

په پایله کې دواړو اړخونو موافقه وکړه چې پدې اړه خبرو اترو ته دوام ورکړي ترڅو مطلوبو پایلو ته ورسیږي.

## تدویر جلسه با عده ای از تاجران کشور چین





۲۵ذوالحجه ۱۴۴۳ – جلسه ای با گروهی از تاجران چینی به ریاست محترم لطف الحق نور پسرلی مشاور ارشد پالیسی د افغانستان بانک تدویر گردید.

در این جلسه پیرامون توسعه روابط بانکی، معاملات مالی، توسعه تجارت و برخی دیگر از موضوعات مرتبط بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

د افغانستان بانک به عنوان بانک مرکزی کشور متعهد است که در پرتو قوانین و مقررات مربوطه روابط خوب بانکی را با تمامی نهادهای مالی و بانکی کشورهای جهان حفظ نموده و این روابط را بیشتر از هر وقت دیگر گسترش دهد.

# په تېر یو کال کې د افغانستان بانک لاسته راوړنو ته لنډه کتنه

خرنګه چې ټولو ته څرګنده ده چې په افغانستان کې سیاسي بدلون په یو ناڅاپي ډول رامنځته شو چې په طبیعي توګه یې د ټولو ادارو پر کړنو او اجرااتو، په ځانګړي ډول پر مالي او بانکي سکتور د پام وړ اغېزې پرېښودلې خو د افغانستان بانک په ډېرې ځیرکتیا سره وضعیت داسې مدیریت کړ چې په یو وخت یې د بیو ټیکاو، چې د افغانستان بانک لومړنی موخه ده، د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ثبات د مدیریت له لارې تأمین کړ او د هیواد د اسعاري اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې هراړخیزه طرحه جوړه او تر سره کړه. پدې برخه کې د افغانستان بانک د تېر یو کال د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه په لنډ ډول معلومات را ټول شوي دي:

## د پولي سیاستونو پلي کول

د هیواد د مرکزي بانک په توګه د افغانستان بانک ژمن دی، څو د خپلو شته ابزارونو په کارولو سره پولي سیاستونه طرحه، جوړ او پلي کړي، څو له دې لارې خپلې لومړنی موخې یعنې د بیو ټیکاو ته ورسېږي. د تېر یو کال په اوږدو کې د افغانستان بانک وضعیت په ښه ډول او پوره ځیرکتیا سره مدیریت کړ چې په یو وخت یې د بیو ټیکاو، چې د افغانستان بانک لومړنی موخه ده، د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ثبات د مدیریت له لارې تأمین کړ او د هیواد د اسعاري اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې هر اړخیزه طرحه جوړه او تر سره کړه. دې بانک د ډالرو او نورو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د نوسانونو د مخنیوي لپاره له اړتیا سره سم تر اوسه پورې له ۲۹ ځلو زیات د اسعارو لیلام ترسره کړی دی او وضعیت په بشپړه توګه څارې چې د اړتیا په صورت کې او د بازار د بهیر په پام کې نیولو سره کافي امکانات په واک لري او هڅه کوي، څو د ټولنې زیانمنونکی قشر زیانمن نه شي. د افغانستان بانک د افغانستان د اسعاري زېرمو د ازادولو لپاره خپلې هر اړخیزې هڅې کړې دي. همدارنګه د تېر یو کال په اوږدو کې د نورو اسعارو په مقابل کې د افغانۍ د برابرۍ نرخ د شته ننګونو سره سره د سیمې ډېری هیوادونو په پرتله د نسبي ښه والي څخه برخمن وو.

## د مبادلې نرخ

د افغانستان بانک د متحولې مدیریت شوې مبادلې د نرخ له رژیم څخه پیروي کوي چې په دې اسعاري رژیم کې د مبادلې نرخ په بازار کې د تقاضا او عرضې پر بنسټ ټاکل کېږي او مرکزي بانک یې د شته ابزارونو په کارولو او له اړتیا سره سم له نوسانونو مخنیوی کوي. د ارزونې وړ مودې په اوږدو کې د اسعارو په وړاندې د افغانۍ نرخ په منځنۍ ډول د شرایطو په پام کې نیولو سره او د سیمې هیوادونو په پرتله له نسبي ښه والي برخمن وو.



**د پولي متغیرونو موخو ته رسېدل (تحقق)**

د افغانستان بانک د پولي متغیرونو د په نښه کولو لپاره د پولي سیاست اډانه څاري. د پولي متغیرونو د لاښه مدیریت لپاره ورته د شرایطو په پام کې نیولو سره د کال په پیل کې حد ټاکي. د افغانستان بانک توانېدلی چې د ارزونې لاندې موده کې پولي متغیرونه (په ګردښت کې پیسې او پولي زېرمې) له ټاکلي حد څخه ټیټ وساتي او د بې سارې ودې څخه یې د امکان تر بریده مخنیوی وکړي.

**د بانکي سکتور کړنې**

د سوداګریزو بانکونو د کړنوڅارنه او پلټنه او د عامه امانتونو د خوندیتوب تأمینول د افغانستان بانک سترې او بنسټیزې دندې دي چې د افغانستان بانک د بانکي څارنې د لوی آمریت لخوا ترسره کېږي. له همدې کبله، د بانکي څارنې لوی آمریت د پېرودونکو د امانتونو د خوندیتوب، د قوانینو او مقررو له پلي کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو او د مالي ثبات د ساتنې په موخه د هیواد له جواز لرونکو بانکونو څخه د ساحې بهر څارنه (Offsite Surveillance)، د ساحې دننه څارنه (Onsite Supervision)، د پیسو مینځلو او ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې څارنې، ځانګړې څارنې، موخه ایزې څارنې، تعقیبي څارنې او د وجوهو ناڅاپي څارنې ترسره کوي.

د افغانستان بانک په هیواد کې له سیاسي بدلون وروسته د امریکا د متحده ایالاتو په ګډون د نړۍ له ټولوهیوادونو سره په تخنیکي کچه د اړیکو د ټینګښت لپاره هر اړخیزې هڅې کړې، چې دا چاره د بانکي اړیکو او په ځانګړې توګه د هیوادوالو د اړتیا وړ اومه موادو او نورو اړینو توکو د واردولو په موخه د نړیوالو لېږدونو د ښه والي لامل شوې ده. د افغانستان بانک د کارکوونکو د هڅو، بحثونو او پرلپسې خبرو اترو په پایله کې، مونږ وکولای شول چې د امریکا متحده ایالاتو د خزانې وزارت څخه ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹ او ۲۰ شمېره عمومي جوازونه ترلاسه کړو، چې له امله یې د هیواد پر بانکي نظام محدودیتونه له منځه تللي او په پایله کې یې د افغانستان او د نړۍ د نورو هیوادونو ترمنځ د نړیوالې راکړې ورکړې او لېږدونو په برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته شوي او له دې لارې د خلکو ستونزې هوارې شوې دي.

د افغانستان بانک په هیواد کې له سیاسي بدلون وروسته د مقرراتي چارو د ښه والي، د پېرودونکو مالي ستونزو ته د رسېدنې، د نقدینګۍ د مدیریت، د سوداګریزو بانکونو د کړنو د دوامداره ساتلو، د بانکي چوپړتیاوو د وړاندې کولو د تنظیم، له هیواده بهر لېږدونو د اسانتیاوو، د صرافانو او پولي چوپړتیاوو د وړاندې کوونکو د معاملو د اسانولو، د بانکي تضمینونو د فسخ کولو د بهیر د بندولو، د ښې اداري د ښه والي، د بانکي چوپړتیاوو د پراختیا او نور موضوعاتو په موخه د هیواد بانکونو ته ۶۴ متحد المال مکتوبونه صادر کړي دي.

دیادونې وړ ده چې په بانکونو کې د مدیریتي تشې د مخنیوي او د بانکي چوپړتیاوو د پراختیا په موخه یو لړ کړنې ترسره شوي دي چې په لړ کې یې د دې آمریت لخوا د ۱۲ بانکي څانګو او غرفو لپاره له سیاسي بدلون وروسته د فعالیت جوازونه صادر شوي دي. سربېره پر دې، له سیاسي بدلون وروسته د ۲۰ پایو صرافي خپل کاره ماشینونو او ۴۷ پایو POS ماشینونو د لګولو جوازونه ورکړل شوي دي. د یادولو وړ ده چې په بانکونو کې د مدیریتي تشې د مخنیوي په موخه ۳۱ تنه په شرایطو برابر نوماندان د کاري مرکې له اخیستلو وروسته د بانکونو په کلیدي بستونو کې منظور شوي دي.

**د اسلامي بانکوالۍ پراختیا**

دې ته په پام سره چې اسلامي بانکوالي اوس مهال د نړۍ په ټولوهیوادونو کې مخ پر ودې روانه ده او د بشپړ خوندیتوب درلودلو ترڅنګ د شریعت له حکمونو سره برابره ده، د افغانستان بانک په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د لا زیاتې ودې او پراختیا لپاره اغېزناکې هڅې کړې دي او د غونډو په جوړولو او د افغانستان اسلامي بانک او د نورو بانکونو د اسلامي بانکوالۍ دریځو ته یې د متحدالمال مکتوبونو په لېږلو سره، ګټورې لارښوونې او هدایتونه لېږلي او د هغه د تطبیق له

»

ځرنګوالي څخه وخت په وخت ځارنه او ارزونه کوي.
له نیکه مرغه اسلامي بانکوالي د ښه والي په درشل کې ده ځکه چې په روانه میاشت کې د دې سکتور ټولیزه شتمنۍ ۲۵.۵۹ میلیارده افغانۍ ته رسېدلې، حال دا چې په تېره میاشت کې یاده شتمنۍ ۲۵.۲۸ میلیارده افغانۍ ښودل شوې وه. د دې سکتور ټولیزه پانګه هم مثبته ارزول کیږي، ځکه د روانې میاشتې شمېرې ۶.۴۴ میلیارده افغانۍ ښودل شوې دي، په داسې حال کې چې په تېره میاشت کې دا شمېره ۶.۴۰ میلیارده ثبت شوې ده.

**د غیر بانکي سکتور کړنې**

غیر بانکي سکتور د بانکوالۍ د سکتور ترڅنګ له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی او د صرافیو، پولي چوپړتیاوو وړاندې کوونکو، د برښنایي پیسو د مؤسسو، د مالي اجارې د مؤسسو او د اداینې د مؤسسو کړنې رانغاړي. د تېر یو کال په موده کې د دې سکتور د کړنو د تنظیم او میکانیزه کولو لپاره ټولې هڅې شوي دي چې د یوې طرحې په بڼه تنظیم او د افغانستان د اسلامي امارت کابینې ته وړاندې شوې چې له منظورۍ وروسته د پلي کېدو وړ دي .
دیادونې وړ ده چې د یادې طرحې له تطبیق څخه لاندې پایلې او لاسته راوړنې لرلې دي:
۱ –د نویو شرایطو مطابق د صرافیو او پولي خدمتونو د شرکتونو لپاره د ۷۷ جوازونو صادرېدل؛
۲ –د صرافیو او پولي خدمتونو د شرکتي جوازونو د تر لاسه کولو لپاره د ۱۴۰ غوښتنلیکونو تر لاسه کول؛
۳ –د (۶۴۴) غیرقانوني صرافیو او پولي خدمتونو پېژندنه او فعالیتونو درول؛
۴ – د صرافیو او پولي چوپړتیاوو د معیاري کولو او شرکتي جوازونو ته د اړولو لپاره د ۱۳۰۰ انفرادي جوازونو فسخ چې د اعتبار نېټه یې ختمه شوې وه؛
۵ –د جوازونو د پروسس له عوایدو د څه باندې۶۹ میلیونه افغانیو فیس را ټولول؛
۶ – د صرافیو او پولي د شرکتي جوازونو د صادرولو لپاره د څه باندې۸۱۶ میلیونه افغانیو تضمین اخیستل.
د افغانستان بانک د مغرضو اشخاصو د ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي په موخه د جواز د اخیستلو، د دې سکتور د کړنو د تنظیم او میکانیزه کولو لپاره اړینې اسانتیاوې رامنځته کړې او یو لړ اقدامات یې ترسره کړي چې د پام وړښې پایلې یې درلودلې دي.

**د پیسو مینځلو او له جرمونو څخه ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې مبارزه**

د افغانستان بانک د پیسو مینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د موادو په پام کې نیولو سره په ښه توګه کار کړی او د اړوندو ادارو په همکارۍ یې له هیواده بهر د ډالرو د قاچاق مخه نیولې چې له امله یې د ډالرو او نورو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ نرخ کنټرول شوی دی. د اخطاریو صادرول، د نغدي جریمو وضع کول، د جواز ځنډول او حتی فسخ کول نور هغه اقدامات دي، چې د مالي او بانکي سکتور په کړنو کې د اصلاحاتو په موخه په پام کې نیول شوي او پلي شوي چې په ټوله کې د هیواد د ملي ګټو لپاره یو پر بل پسې پلي شوي او د پام وړ پایلې یې لرلې دي.
د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د نړیوالو همکاریو د دوامداره ساتلو او په نړیوالو سازمانونو لکه اګمانټ ډلې او آسیا پسفیک هیوادونو کې د هغه د غړیتوب د ځرنګوالي لپاره هرې ډلې ته په جلا جلا ډول د پیسو مینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې په تړاو د اجرااتو په برخه کې د اطمینانیې راپور لیږلی دی .
د نغدو پیسو او د غیر نغدي معاملو اداره کول
د نظام په بدلون سره، د مرکز او ولایتونو په کچه د سیالیت او نغدینګۍ تأمینول او د هغه د مدیریت ځرنګوالی ډېر سخت کار وو، خو د افغانستان بانک د معقولو طرحو په پام کې نیولو سره دا ننګونه په ښه ډول مدیریت کړې او د مرکز او و لایتونو پولي اړتیاوې یې د ځمکني او هوایي ټرانسپورټ له لارې د امنیتي ادارو په همکارۍ سره حل کړې دي. په همدې ترتیب، د دولت
»

د عوایدو د راټولولو او په اړوندو حسابونو کې د هغه د شاملولو په برخه کې د افغانستان بانک مرکزي رول له پامه غورځولای نه شو .

**د ادارینو او معلوماتي تکنالوژۍ د سیستمونو پراخه کول**

د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ اصل ته باورمند او د تکنالوژیکي سیستمونو پراختیا لپاره ژمن دی. له همدې امله یې د تېر یو کال په اوږدو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ او ادارینیزو سیستمونو د ساتلو او پراختیا په برخه کې په پر له پسې ډول هڅې کړې او د مخکینیو سیستمونو د ساتلو ترڅنګ یې د نویو سیستمونو د پلي کولو په برخه کې عملي او اغیزناکه اقدامات ترسره کړي دي چې د یادو سیستمونو ښې بېلګې د غیر بانکي څارنې برخې ته د نوي سیستمونو جوړول، د مرکز د بانکوالۍ د سیستمونو د نسخې نوي کول، د سویفټ سیستم د خوندیتوب او د سایبري احتمالي خطرونو د مخنیوي په موخه د راتلونکي یو کال لپاره د۲۰۲۱ Customer Security Program د پروګرام تطبیقول او د ورکړې د اسانه کولو په موخه له ملي سویچ سره د برښنا شرکت او د پاسپورټ سیستم نښلول او ازمویل ګڼل کېږي .

**د حقوقي او مقرراتي اډانې ټینګښت**

د دې په پام کې نیولو سره چې په هره اداره کې د چارو د لا ښه والي او تنظیم لپاره د قوانینو او مقرراتو پلي کول ډېر ارزښت لري، د افغانستان بانک د حقوقي زمینې برابرولو او د مقرراتي اډانې د ټینګښت لپاره کمېسیون ګمارلی دی، څو ټول تقنیني سندونه د اسلام د مبین دین او شریعت په رڼا کې مرور کړي. دې کمېسیون د افغانستان بانک د قوانینو، مقرراتو، لوایحو او کاري کړنلارو ټول مواد په بېلابېلو برخو کې مرور او نهایي کړي چې اوس مهال په بشپړې روڼتیا سره رعایت او پلي کېږي .

**بشري سرچینې**

دې ته پام سره چې بشري سرچینې په هر سازمان کې د ودې، اغیزناکتیا او ګټورتیا لامل ګڼل کېږي او د افغانستان د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره خورا ډېر ارزښت لري، د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي دا اصل په جدیت سره رعایت کړی او د دې بانک مسلکي او تجربه لرونکي کادرونه یې ساتلي او هغوی لپاره یې ښې کاري زمینې برابرې کړې دي. له دې ډلې یې تش بستونه ازاد رقابت ته ورکړي او وړ کارکوونکي یې له تبعیض پرته د مسلکي پوهې، تخصص، لوړو زده کړو پر بنسټ ګمارلي دي .

د افغانستان بانک سرپرست د همکارانو د کاري ساحې د لیدنې، د ستونزو د اوریدو، ننګونو او د افغانستان بانک د همکارانو د وړاندیزونو او هغوی ته د مثبتې روحیې ورکولو لپاره په خپله د افغانستان بانک اووه واړه زونونو او ولایتي نمایندګیو ته سفر وکړ او اړوندو برخو ته یې اړینې اصلاحي لارښوونې وکړې. د دوی دا چاره د افغانستان بانک په تاریخ کې بې سارې وه او د همکارانو لخوا یې هرکلی وشو.

**اړیکې او اطلاعاتو لاسرسی**

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی د هیواد د اقتصادي ودې او غوړېدلو په برخه کې د اړیکو او رسنیو په رول باور لري او د روڼتیا او حساب ورکونې اصل ته درناوی کوي. په همدې موخه یې د کار له پیل څخه تر اوسه پورې د هیواد له رسنیو سره اغیزناکه کاري اړیکې درلودلې او د رسنیو له لارې یې د افغانستان شریف او باعزته خلک د افغانستان بانک له اجرااتو او لاسته راوړنو خبر کړي دي او هیڅ ډول معلومات یې چې د خلکو د پوهاوي لامل کېده او د هیواد په ګټه وو، دریغ نه دی کړی. په ورته وخت کې، له ادارو او ملي مؤسسو په ځانګړې توګه علمي ټولنې سره دهیواد د وضعیت او شرایطو په پام کې نیولو سره د متناسبو معقولو سیاستونو د طرحې لپاره د رغنده نظرونو د ترلاسه کولو او د اړیکو د ټینګښت او تنظیم لپاره تل هڅه کړې چې کولای شو د هیواد د معتبره پوهنتونونو د اقتصاد د څانګې له یو شمېر استادانو سره د پولي سیاست له ناستې (ګفتمان)، د هیواد ډله ایزو رسنیو ته د افغانستان بانک د موخو او دندو په تړاو له روزنیز ورکشاپ، د افغانستان د اسعاري زېرمو کنګل پاتې کېدو په تړاو په اعتراضي بڼه د انځوریز نندارتون له تنظیم او جوړولوڅخه چې دا کار په خپله مدني خوځښتونو ته درناوی دی یادونه کولای شو.



# بررسی عوامل عمده اقتصادی فقر در افغانستان

**عبدالله عرب، اقتصاددان زون شمال شرق (کندز) آمریت عمومی سیاست پولی**

**مقدمه**

این مطالعه به بررسی عوامل عمده ی اقتصادی فقر در افغانستان می پردازد. جنگ های بیشتر از چهاردهه به عنوان عامل عمده فقر در افغانستان به حساب می آید. این جنگ ها با تخریب زیربناهای اقتصادی سبب فقر و عقب ماندگی بیشتر افغانستان گردیده است. کمک های بی شمار مالی جامعه جهانی از یک سوء شاهد تغییرات مثبت در زندگی اقتصادی و اجتماعی مردم شد، ولی از سوی دیگر باعث افزایش فساد مالی و اداری، بیکاری، و گسترش دامنه فقر در افغانستان گردیده است.

در این مطالعه تلاش صورت گرفته برای تبیین عوامل عمده اقتصادی فقر در افغانستان از منابع معتبر علمی، گزارش های معتبر ملی و بین المللی و سایت های انترنتی معتبر استفاده صورت گیرد. نبود برنامه های سازنده و موثر جهت توسعه سکتورهای اساسی اقتصاد ملی از قبیل زراعت، صنعت و معادن عوامل به شمار می آید که سبب عقب ماندگی اقتصادی کشور گردیده است. توزیع نا عادلانه عاید، نبود زیربناها از جمله عوامل دیگری افزایش فقر به حساب می آیند.

شناسایی عوامل عمده فقر در افغانستان ایجاب تحقیقات گسترده را مینماید. جدیترین چالش که در راستای تحقیق در افغانستان وجود دارد، نبود اطلاعات دقیق، کتابخانه های مجهز و تخصصی که بتوان از آن به وجه احسن استفاده کرد، می باشد. نبود فرهنگ تحقیق در جامعهٔ افغانستان و عدم همکاری ارگانهای دولتی و جامعه با محققان در فرایند تحقیق چالش دیگری است که؛ پژوهشگران را با دشواری های متعددی روبرو می سازد. به این اساس دست یابی

«

پژوهشگران به آمار واقعی و موثق در راستای تحقیق دشوار و بعضاً ناممکن میباشد. این تحقیق یک منبع خوبی خواهد بود تا محققان و دانشجویان با استفاده از آن بتوانند گام های بهتری را در زمینه شناسایی عوامل اقتصادی فقر در افغانستان بردارند.

## عوامل فقر در افغانستان :

### ۱- بیکاری

یکی از عوامل عمده فقر در افغانستان نبود زمینه کار می باشد. چند دهه جنگ و نابودی زیربنا ها، به مشکلات بیکاری افزوده است و عدم آشنایی اکثریت مردم با کار های مسلکی نیز در افزایش بیکاری سهم عمدی داشته است، در سال های اخیر در عرصه رفع بیکاری اقدامات جدی و چشمگیری صورت نگرفته است، در حالیکه ساخت زیر بنا ها، اولویت مهم برای ساختن فردا ها و تضمین زمینه اشتغال برای عده ای کثیری از ملت افغانستان است. هم چنان نبود امنیت ودر اثر آن کاهش سرمایه گذاری ها دلیل دیگر افزایش بیکاری در کشور میباشد. همینطور رشد نفوس و برگشت مهاجرین به کشور هم در افزایش بیکاری اثر داشته است.

### ۲-توزیع نابرابر منابع و درآمد

منابع ثروت در افغانستان بیشتر منبع آب و زمین است، متاسفانه توزیع این ثروت از نخستین روزها عادلانه نبوده است، نظام های گذشته نتوانستهاند سیاست مؤثر توزیع عادلانه زمین را اجراء نمایند.حکومت شاهی در زمان ظاهر شاه و حکومت های مابعد طرح اصلاحات اراضی را روی دست گرفتند؛ ولی به دلایل مختلف موفق به اجرای آن نشدند.

افزایش خلای توزیع درآمد و نابرابری اقتصادی اثرات ناگوار و ویرانگری را به بار آورده است. با تأسف ارقام درستی در دست نیست تا تغییر ضریب جینی برای افغانستان را در سال های اخیر مورد غور و بررسی قرار داد. راپور های بانک جهانی این ضریب برای سال ۲۰۰۸ به ۰.۲۹ تخمین کرده است، که نه دقیق است و نه معقول؛ شاید پائین بودن این ضریب بخاطر است، که جامعه افغانستان در نهایت فقر وبیچارگی قرار دارد و اکثریت مطلق مردم آن فقیر و بی بضاعت اند.

### ۳- عدم توسعه سکتور زراعت

زراعت در پروسه ی باز سازی و توسعه اقتصادی نقش استراتیژیک دارد. اگر به تاریخ توسعه اقتصادی در کشورهای پیشرفته دنیا نظر اندازیم درمیابیم که انقلاب زراعتی در اروپا پیش از انقلاب صنعتی رخداده است، و اکثر مطالعات نشان میدهد، که توسعه سکتور زراعت راه را برای انقلاب صنعتی هموار ساخته است. در امریکا و جاپان نیز توسعه سکتور زراعت قبل از صنعتی شدن این کشورها آغاز یافت که در رشد پروسه صنعت در این کشورها نقش بارز داشته است.زراعت در حقیقت ستون فقرات اقتصاد افغانستان به حساب میرود، در حدود ۷۰ درصد نیروی کار در این سکتور اشتغال دارند و بیشتر از ۸۰ درصد مردم کشور به گونه ی به زراعت و مالداری اتکا دارند.متأسفانه رشد زراعت در این کشور بسیار اندک بوده و اغلب زارعان با فقر دست به گریبان هستند،دولت ها نتوانستهاند منابع آب را مدیریت کنند، توسعه دهند و زمین های بیشتر را زیر کاشت ببرند. از سوی دیگر یکی از چالش جدی سد راه توسعه زراعت در افغانستان عدم دسترسی به زمین است. عدم دسترسی به زمین زراعتی به حیث مصئونیت اقتصادی پذیرفته میشود، که اکثر زمین های قابل کشت، زیر کشت نیستند.

### ٤- عدم توجه به منابع طبیعی

یکی از عوامل عمده فقر در افغانستان سرمایه گذاری نکردن روی منابع طبیعی، معادن، زیربناهاو عدم بهره برداری صحیح از آنها است. افغانستان از لحاظ منابع معدنی، کشور غنی به شمار می رود. لیکن اکثر این منابع معدنی بکر و دست نخورده و یا ناشناخته باقی مانده اند. دقیقاً مشخص نیست، که چه منابعی در این کشور وجود دارد. سرزمین افغانستان پر از معادن گوناگون، غنی و هنوز بهره برداری نشده است، این خود از عوامل عقب ماندگی این کشور محسوب می گردد و دلیل آن ضعف مدیریت سیاسی، فقر و نداشتن نیروی انسانی می باشد.

### ۵- توسعه نیافتگی صنعت

صنعت دستی افغانستان از اهمیت اقتصادی خیلی خوب در گذشته و زمان معاصر برخوردار بوده است. اما در سال های اخیر به اثر جنگ »

ها آسیب دیده است.توسعه صنعت مانند هر پدیده دیگر نیازمند بسترهای امنیت اقتصادی، رشد فرهنگی و ثبات سیاسی می باشد و در صورت فقدان یکی از آنها ایجاد و توسعه صنعت با تأخیر مواجه می گردد. تاریخ افغانستان حکایت گر این است که بسترهای مناسب توسعه صنعت که مدیریت کارآمد، سرمایه اقتصادی و نیروی انسانی و امنیت و ثبات سیاسی می باشد، در طول تاریخ به ویژه اکنون فراهم نبوده است.

## ٦- فقدان زیربناها

فقدان زیزبناها، روند رشد اقتصادی و اشتغال زایی را به کندی مواجه ساخته است. اکثر مردم به خصوص در روستاها به انرژی برق دسترسی ندارند. شبکه جاده در وضعیت خوبی قرار ندارد اکثر جاده ها در میان ولایات و ولسوالی ها اسفالت نگردیده اند. عدم توجه به سکتور زراعت باعث کاهش محصولات زراعتی شده و اشتغال زایی را به چالش مواجه ساخته است. در سال های اخیر سیستم برق نسبتاً توسعه نموده است، اما نمیتواند تقاضای فعلی را که ۴۵ فیصد سالانه در حال افزایش است به درستی مرفوع سازد. سرک حلقوی افغانستان تکمیل گردیده است، اما سرک های فرعی و دومی به قیرریزی نیاز دارند.

## ۷- عدم حمایت سکتور خصوصی

در دو دهۀ قبل، سکتور خصوصی در افغانستان به همان پیمانه که کمک های خارجی، مؤثربوده، نتوانسته است به عنوان انجن رشد اقتصادی کار نماید. تخمین گردیده است، که سکتور خصوصی افغانستان صرف ۱۰ تا ۱۲ درصد تولید ناخالص داخلی رااحتواء مینماید. مطابق به قانون اساسی افغانستان دولت مکلف به حمایت و تشویق سکتور خصوصی میباشد؛ اما متأسفانه در این راستا توجه لازم صورت نگرفته است. در دوران حکومت های قبلی، عوامل مانند چارچوب ضعیف قوانین و مقررات، کندی روند اصلاحات اقتصادی، فساد اداری، فقدان زیربنا ها، دسترسی محدود به زمین و رشد ابتدایی سکتور مالی، سبب شده تا یک محیط تجارت ضعیف شکل بگیرد و در نتیجه سبب محدودیت رشد سکتور خصوصی گردد.

## نتیجه گیری

یافته های این مطالعه نشان می دهد که اساس همه نابسامانی ها و عقب ماندگی اقتصادی نا امنی و بی ثباتی سیاسی بوده که همه برنامه های عمرانی و توسعه ای کشور را ناکام ساخته و چالش های زیادی را برای مردم و جامعه به بار آورده است.

سکتور زراعت که اساس اقتصاد افغانستان را تشکیل می دهد و بیشتر نیروی کار در این بخش مصروف کار می باشد، در دوران حکومت های قبلی، به دلیل فساد گسترده مالی و اداری و نبود برنامه های حمایوی از طرف دولت سهم این سکتور در تولید ناخالص داخلی بسیار ناچیز می باشد.

سرمایه گذاری نکردن بالای منابع طبیعی و اهمیت نه دادن به سکتور صنعت، توزیع ناعادلانه عاید عوامل دیگر به حساب می آید که سبب افزایش فقر گردیده است. عدم توجه به سکتور های اساسی اقتصادی ملی باعث محدود شدن زمینه کار گردیده و به چالش های اشتغال زایی افزوده است، بیشتر افراد که واجد شرایط به کار استند، یا بیکار اند و یا اینکه شغل مناسب ندارند.

**منابع**

۱- امیری،عبدالحق (۲۰۱۶). "تحولات اقتصادی دههی ملت سازی در افغانستان"، کابل- افغانستان، انتشارات سعید.

۲- بانک انکشاف آسیایی (۲۰۱۷). افغانستان طی سالهای ۲۰۱۷-۲۰۲۱- دست یابی به انکشاف جامع در یک وضعیت- شکننده و ناسازگار، کابل، نشرات مرکز.

۳- رحمانی یزدری، علیجان (۲۰۰۹). "علل عقب ماندگی افغانستان و راه های بیرون رفت"، قم-ایران، انتشارات میراث ماندگار.

۴- صابری، نوروز (۱۳۹۲). "عوامل مؤثر در فقرکشور افغانستان"، فقهی اقتصادی، شماره ۳، ۷۷-۴۸، ایران.

۵- نورعباد،حمیدالله (۲۰۱۷). "مجموعه مقالات اقتصاد"،کابل- افغانستان، انتشارات تمدن شرق.

۶- هابیل،سیدمحسن (۲۰۱۷). "اقتصاد افغانستان"، کابل-افغانستان،انتشارات جهان اسلام.

۷- وزارت اقتصاد (۱۳۹۴). گزارش وضعیت فقر در افغانستان: تحلیل بر اساس سروی های ارزیابی ملی خطر وآسیب پذیری سالهای ۰۸/۲۰۰۷ و ۱۲/۲۰۱۱،کابل: نشرات وزارت اقتصاد.

۸- وزارت اقتصاد (۲۰۱۷). "گزارشت حلیل وضعیت فقر در افغانستان: پیشرفت در معرض خطر"، کابل افغانستان.

# آیا پوهېږئ

## چې په روان ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې د نړۍ تر ټولو بډایه بانکونه کوم دي؟

په نننۍ نړۍ کې بانکي سکتور ډېر پرمختګ کړی او د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې د خلکو لپاره اړین خدمتونه وړاندې کوي، پدې مقاله کې د نړۍ هغه لس ستر بانکونه چې په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې د غوره او ډېرې شتمنۍ لرونکو بانکونو په کتار کې راغلي دي په لاندې توګه پېژندل کېږي.

چین د نړۍ د هغو هیوادونو له ډلې دی چې بېلابېل بانکونه یې د خو کلونو راهیسې په نړیواله کچه لوموړی مقام تر لاسه کوي په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې هم د چین ډېر شمېر بانکونو په لوموړي کتار کې ځای نیولی دی.

۱ – د نړۍ تر ټولو لوی او بډایه بانک د چین صنعتي او سوداګریز بانک (ICBC) دی. وروستي معلومات ښیي چې دا بانک اوس مهال ۵،۸۸۰ بلیونه ډالر شتمنۍ لري.

دا بانک په ۱۹۸۴ زیږدیز کال کې جوړ شوی دی او دا مهال له ۴۳۵ زره زیات کارکوونکي لري. د آی سي بي سي په نامه بانک چې مرکزي دفتر یې د چین هیواد په پلازمېنه پېکینګ کې دی د دې بانک تر ۷۰ سلنې زیاته برخه د چین هیواد د دولت ملکیت دی.

۲ – د چین د رغونې (CCB) بانک هم د څه زیاتې سرمایې د لرلو له مخې د نړۍ دویم لوی بانک دی چې شتمني یې په روان ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې ۵،۰۴۵ بلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي.

دا بانک هم د چین پر هیواد پورې تړلی دی چې په ټوله نړۍ کې ۱۴ زره نمایندګۍ لري او څه باندې ۳۴۹ زره کسان په کې پر دندو بوخت دي. دا بانک په لومړیو کې د دولت له لوري د اسعارو د پېر او پلور لپاره جوړ شوی ؤ، خو وروسته بیا په سوداګریز بانک بدل شو.

۳ – د چین د کرنې بانک(ABoC) ، دا په نړۍ کې د شتمنۍ له مخې دریم لوی بانک دی. دا بانک په ۱۹۵۱ زیږدیز کال کې د ماو ژېډونګ له خوا رامنځته شو، ترڅو له ټولنیزو فارمونو، کروندګرو او کارګرو سره مرسته وکړي. اوسمهال دغه بانک د ټولې نړۍ مالي او سوداګریزو چارو ته لاره موندلې ده.

د دې بانک مرکز هم د چین هیواد په پیکینګ کې دی او په ټوله نړۍ کې شاوخوا ۲۴ زره استازولۍ لري. د دې بانک شتمني ۴،۸۶۸ بلیونه ډالرو ته رسېدلې ده.

۴ – د چین بانک(Bank of China ltd) ، دا بانک هم د نړۍ د بانکونو څلورم ستر بانک دی. دغه بانک په ۱۹۱۲ زیږدیز کال کې رامنځته شوی دی او له جوړښت تر دې دمه د ملي بانکوالۍ په برخه کې غوره ځای لري.

د دې بانک ۷۰ سلنه برخه د چین هیواد د حکومت ملکیت دی او د نړۍ په اوه ویشتو هیوادونو کې استازولۍ لري. د معلوماتو پر بنسټ د دې بانک ټوله شتمني ۴،۳۲۷ بلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي.

۵ – د جي پي مورګان چیس(JPMorgan Chase) ، دا بانک د شتمنۍ لرلو له مخې د نړۍ پنځم لوی بانک دی چې د امریکا پر متحدو ایالتونو پورې اړوند دی. دا بانک په ۲۰۰۰ زیږدیز کال کې د څو بانکونو له یو ځای کېدو رامنځته شوی دی.دا مهال د دې بانک ټوله شتمني ۳،۸۴۱ بلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي.

۶ – د امریکا بانک(BoA) ، دا بانک د زیاتې شتمنۍ د لرلو له مخې د نړۍ شپږم او د امریکا دویم لوی بانک دی. دا بانک د امریکا پر متحدو ایالتونو پورې تړاو لري چې پر امریکا سربېره د نړۍ په زیات شمېر هیوادونو کې فعالیت کوي. د دې بانک ټوله

«

شتمني ۳.۲۳۸ بلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

۷ – د جاپان متسوبیشي بانک (Mitsubishi UFJ Financial Group)، دا بانک د شتمنۍ له مخې د نړۍ اووم لوی بانک دی چې د جاپان پر هیواد پورې اړه لري. د دې بانک ټوله شتمني دا مهال ۳.۰۷۹ بلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. دا بانک په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې د جاپان هیواد د دوو لویو بانکونو له یو ځای کېدو رامنځته شوی دی او اوس د نړۍ په ځلوېښتو هیوادونو کې فعالیت لري.

۸ – د ایچ ایس بي سي بانک(HSBC Holdings plc) ، دا بانک د زیاتې شتمنۍ لرلو له مخې د نړۍ اتم لوی بانک دی چې د برېتانیې پر هیواد پورې اړه لري. د دې بانک ټوله شتمني ۳.۰۲۲ بلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

۹ – د بي ان پي بانک (BNP Paribas)، دا بانک د شتمنۍ د لرلو له مخې د نړۍ نهم لوی بانک دی چې د فرانسې پر هیواد پورې تړا ولري. د دې بانک شتمني ۲.۹۹۴بلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

۱۰ – د کریډیټ اګریکول بانک (Crédit Agricole)، دا بانک د شتمنۍ لرلو له مخې د نړۍ لسم لوی بانک دی چې په فرانسه هیواد پورې تړاو لري. د دغه بانک شتمني دا مهال ۲.۳۶۷ بلیونه امریکایي ډالره ښودل شوې ده. دا د اروپا په کچه لوی بانک دی چې د فرانسې هیواد د بانکوالۍ په برخه کې یې ستر رول لوبولی دی. د یادو لسو سترو بانکونو تر څنګ د نړۍ لس نور ستر بانکونه په لاندې توګه په لنډ ډول در پېژنو:

۱۱ – سیټي ګروپ د امریکا هیواد بانک دی چې شتمني یې ۲.۳۶۲بلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي دا د شتمنۍ له مخې د نړۍ یولسم لوی بانک دی.

۱۲ – د سیومتومو میتوسیو مالي ډلې په نامه بانک د جاپان پر هیواد پورې اړه لري چې ۲.۱۸۵ بلیونه امریکایي ډالر شتمني لري او د ډېرې شتمنۍ د لرلو له مخې د نړۍ ۱۲ لوی بانک دی.

۱۳ – د جاپان د پوست بانک دی چې د جاپان هیواد ملکیت دی او شتمني یې دا مهال ۲.۰۵۶ بلیونه امریکایي ډالره ده او د نړۍ دیارلسم شتمن بانک دی.

۱۴ – د میځو مالي ډلې په نامه دا بانک هم د جاپان پر هیواد پورې اړه لري. د یاد بانک ټوله شتمني ۲.۰۵۲بلیونه امریکایي ډالر ښودل شوې ده.

۱۵ – ویلس فارګو، دا هم د امریکا د متحدو ایالتونو بانک دی. شتمني یې ۱.۹۴۵ بلیونه امریکایي ډالر ده.

۱۶ – د بانکو ستندر په نامه دا بانک د هسپانیا د هیواد دی. د دې بانک شتمني ۱.۸۳۱ بلیونه امریکایي ډالره ده.

۱۷ – د سوسییټ جنرال په نامه د فرانسې د هیواد بانک دی چې شتمني یې ۱.۸۱۱ بلیونه امریکایي ډالر ښودل شوې ده.

۱۸ – د چین د پوستي سپما بانک، دا په انګلنډ هیواد پورې تړلی دی او ۱.۷۷۵ بلیونه امریکایي ډالر شتمني لري.

۱۹ – د پي بي سي اي ډله، دا هم د فرانسې هیواد پورې تړاو لري. شتمني یې ۱.۷۶۹ بلیونه امریکایي ډالر ده.

۲۰ – دوچ بانک، دا د جرمني هیواد بانک دی. د دې بانک شتمني ۱.۵۹۱ بلیون امریکایي ډالر ده.

ژباړه او راټولونه

حسیب الله نوري

---

سرچینې:


1 - TOP 20 Largest World Banks in 2022 by Total Assets/ Introducing the world's TOP 20 largest banks as of 8 September 2022.
https://fxssi.com/top-20-largest-world-banks-in-current-year

2 – The Banker Ranking
https://www.thebanker.com/Banker-Data/Banker-Rankings/(offset)/10

3 - The world's 100 largest banks, 2022
https://www.spglobal.com/marketintelligence/en/news-insights/latest-news-headlines/the-world-s-100-largest-banks-2020-57854079
https://fxssi.com/top-20-largest-world-banks-in-current-year

# بندر حیرتان و اهمیت آن در توسعه تجارت

محمد مصطفی رسولی اقتصاددان زون شمال (مزار) آمریت عمومی سیاست پولی









دریای آمو افغانستان و ازبکستان را از یکدیگر جدا کرده و خط سرحدی بین این دو کشور را تشکیل میدهد. اتحاد جماهیر شوروی سابق پس از یورش به افغانستان پُل دوستی میان افغانستان و ازبکستان را در سال ۱۹۸۲ میلادی بالای این دریا ساخت. این پُل افغانستان را به تمام کشورهای آسیای میانه، روسیه و چین ارتباط می‌دهد.بندرگاه حیرتان شهر کوچکی است که در سرحد بین ازبکستان وافغانستان واقع شده است و یکی از بندرگاه‌های مهم تجارتی افغانستان میباشد. سایر بنادر تجارتی افغانستان بنابر معضلات سیاسی بین دولتین اکثراً بسته بوده، اما بندر حیرتان یکی از امن‌ترین راه تجارتی افغانستان در طول سال های جنگ نسبت به دیگر بنادر کشور بوده است.

»

**نقشه شهرک بندری حیرتان**




**پل حیرتان**



این شهرک در ۸۰کیلومتری شمال ولایت بلخ قرار دارد. ارتفاع این شهرک از سطح بحر ۳۰۰ متربوده، دارای آب و هوای گرم می‌باشد و پیداوار این شهر شکار ماهی لقه از دریای آمو می‌باشد.

